**خبر:**

NPR خبري اژانس راپور ورکړی چې د ګوانتنامو زندان تر ټولو لوړ عمر لرونکی زنداني، د ۷۵ کالو په عمر ازاد شو چې له دې سره په یاد زندان کې د پاتې کسانو شمېر ۳۵ ته راټیټ شو. سیف الله پاراچا د ۲۰۲۲م کال د اکتوبر میاشتې په وروستی اونی کې خپل پلرني ټاټوبي، پاکستان ته واستول شو. د نوموړي ازادي ځکه تایید شوه چې پر وړاندې یې هېڅ شواهد نه وو او په زندان کې د ساتلو لپاره یې نوره کومه توجیه نه وه. د نوموړي د ازادېدو پر وخت، د NPR خبریال ساچا فایفر په سیمه کې و او ویې کولی شوی چې په دغه بدنامه زندان کې د بندیانو د شرایطو په اړه لومړی لاس سرچینو ته لاسرسی ولري.

**تبصره:**

پر دغه مشر ورور د ظلم کیسه له ۲۰۰۲ کال څخه پیلېږي چې دی د امریکایي ځواکونو لخوا په پاکستان کې د القاعده ډلې سره د تړاو په تور ونیول شو. په ګوانتنامو کې له ۷۰۰ نورو بندیانو سره تر زنداني کېدو وړاندې؛ دی لومړی افغانستان ته یوړل شو او هلته شکنجه شو. ده ته «د تل لپاره زنداني» لقب ورکړل شوی و؛ دا کلیمه به هغو زندانیانو ته کارېده چې د بند موده به یې نامعلومه او د ازادېدو امکان به یې نه و. سره له دې هم د الله سبحانه و تعالی په اراده ازاد شو؛ دا موږ ته تذکر راکوي چې الله سبحانه و تعالی د مومنانو چارې سمبالوي او سموي او دا چې موږ باید د دنیا شکنجو ته له پام پرته پر خپل ایمان ثابت قدمه پاتې شو.

**قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ.**

**ژباړه:** «دوی ته ووایه: که پوهېږئ ووایئ چې د هر څه او واک له چا سره دی؟ او هغه ذات څوک دی چې پناه ورکوي او پر وړاندې یې هېڅ پناه ورکوونکی نشته؟» **[المؤمنون ۲۳: ۸۸]**

د ګوانتامو د مشروطې ازادۍ پلاوي دا ارزونه وکړه چې دی نور د امریکا حکومت ته ګواښ نه دی او له شل کاله نا عادلانه زندان وروسته پایله دا شوه چې ازاد یې کړي. سبحان الله؛ یوازې د جنت بدله هغو ګڼ شمېر مسلمانانو ته عدالت دی چې د خپلې خوښې خلاف شکنجه او بندي کېږي. موږ لا هم نه پوهېږو چې زموږ له خور، ډاکترې عافیې صدیقې سره څه وشول؛ زموږ هغه مسلمانه خور چې د سپټمبر ۱۱مې پېښې کې د لاس لرلو په بې بنسټه تور له کلونو راهیسې د خپلو ماشومانو پرېښودو ته اړ ایستل شوې او د زندان په توره خونه کې ده.

د دین د خدمت په لار کې د مومنانو ژوند نه ضایع کېږي؛ باید هېڅکله اجازه ور نه کړو چې د خلافت د بیا راوستلو لپاره د کار په لار کې مو دا ښېګې زړونو ته وېره واچوي. دوی غواړي چې د دغو مسمانانو په ښېګو موږ د الله سبحانه و تعالی د رضایت لپاره کار څخه راوګرځوي. موږ دعا کوو چې د نړۍ په هر کونج کې مسمانان له خپلو کورنیو او ماشومانو سره یو ځای شي. د ریښتیني خلافت د تاسیس لپاره دعا کوو چې له دې ډاډمن شو چې د الله سبحانه و تعالی د دښمنانو په لاس دا ناعادلانه کړنې په یو ځل او د تل لپاره پای ته رسېږي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**عمرانه محمد**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی**